دهیځان شهدا است ... (calligraphic motto)

(٤) صفحه

شهادت

ارګان مرکزي حزب اسلامي افغانستان

شماره مسلسل (۹۲۱) سال هژدهم -شماره (۷) سه شنبه (۱۵) حمل ۱۳۷٤ هـ ش - (٥) ذی القعده ۱٤۱٥ هـ ق (٤) اپریل ۱۹۹٥ م

قیمت (۱٥۰) افغاني (۲ روپیه)

دبدخشان ولایت دقلاقلي کوتل ته نږدې دزلزلي په یوه بله پیښه کي (۳۷) کسه لادرکه شوي اومړشوي دي

فیض آباد - دوري ١٤ :

دملګروملتونو مامورینو په اسلام آبادکي داخبره تائید کړي چي تیره اوني دبدخشان ولایت ددرایم په ولسوالي کي دیوي خونړي زلزلي دټکانونو اودیو غره دنړیدوله امله ۳٥۰ کسه وژل شوي دي اودزلزلي داخطرناکه پیښه اصلاً دقلاقلي کوتل ته نږدي په یوه غرني کلي کي رامنځ ته شوي ده .

دملګروملتونو مامورینویلي چي دوي ورځي مخکي په همدي ځاي کي ۳۷ کسه نوردځمکي دنړیدو په یوه بله پیښه کي وژل شوي چي تراوسه ددي کسانوله جملي څخه د۱۲ کسومړي پیداشوي دي .

په یوه بل خبرکي ویل شوي چي ځپل شویو سیموته دخیریه موسسوله خوا ۱۸ ټنه خوراکي مواد ، کمپلي او دواتباري شوي دي اوډېرژربه وررسول شي .

تعــدادي ازافــراد حزب وحـدت لادرك اند

کابل - ۱۳ حمل :

صدهاتن ازطرفداران حزب وحدت اسلامي درغرب کابل ناپدیدشده اند .

گزارش رادیوي ایران حاکیست : این افراد درأثناي درگیري حزب وحدت باگروه طالبان درغرب کابل به اسارت طالبان درآمده ، تاهنوزازآنها خبري دردست نیست . گزارش مي افزاید: طالبان درغرب کابل جنایات بزرگي رامرتکب شدند که ازجمله افشا ، یك قبردسته جمعي که درآن بیست ودوتن به حالت دست بسته به قتل رسیده ودرآنجامدفون گردیده بودند،کشف شده است .

دننگرهارپوهنتون نوی تدریسی کال دیوی درنی غونډی په ترڅ کی پیل شو

ننګرهار - دوري ۱۳ مه :

دروان کال دوري دمیاشتي په ۱۳ مه نیټه دننګرهار پوهنتون دنوي تدریسي کال دپیل اوتوموري پوهنتون ته څیرمه دپوهنتون داستاداتولپاره دفامیلیودنوي جومات دوداني دپرانستلوپه مناسبت دپوهنتون دکنفرانسونو په تالارکي یوه پرتمینه اوشانداره غونډه جوړه شوه .

پدي غونډه کي مجاهد ورورحکمتیارمولوي صاحب خالص اودننګرهاروالي الحاج عبدالقدیر ،دلغمان ولایت دجهادي شورا رئیس اووالي عبدالله ، واحدي ، مجاهد ورور استاد فرید، مجاهد ورور استاد فتح محمد، دننګرهارپوهنتون رئیس محترم داکترفضل محمد « ابراهیمي » دتوموري پوهنتون دادبیاتوپوهنځي رئیس محترم مسعود نیك بخت ، دپوهنتون علمي مرستیال استاد الله داد خان ، استاد سازنور ، مجاهد وروراانجنیر عبدالغفار، قوماندان زلمي، مجاهد ورور داکترمحمد آصف اوګڼ شمیر محصلینواودپوهنتون استادانو هم ګډون کړي وو.

غونډه دسهارپه ۹ بجواو ۳۰ دقیقو دقرآن عظیم الشان دځومبارکو آیتونو په تلاوت دمحترم قاري عبدالحمید له خواپیل شوه .

په پیل کي دننګرهارپوهنتون رئیس مجاهد وروړداکترفضل محمد ابراهیمي ، دیوي

(۳)مخ

برخلاف تعزیرات بین المللي :

حجاج لیبیایي بوسیله طیاره وارد مکه خواهند شد

طرابلس - ١٤ حمل :

عربستان سعودي میګویدکه امسال ازحجاج لیبیایي استقبال خواهد کرد ولوآنکه آنهاباسرپیچي از تحریم هوایي ملل متحد به مکه بیایند .

به گزارش خبرگزاري ها وزیرداخله عربستان سعودي خط مشي آنکشوررا براي استقبال ازتمام مسلمانان جهان براي رفتن به مکه تائید کرد . درین حال معمرالقذافي رهبر لیبیا درهفته گذشته گفت:درنظر دارد ازتحریم هوایي ملل متحد سرپیچي کرده وحجاج لیبیایي را ذریعه طیاره به مکه بفرستد .

لیبیا ازسال ۱۹۹۲ به اینطرف باتعزیرات ملل متحد مواجه شده است.مزیداً مقامات این کشورنخواسته اندکه دوتن ازاتباع کشورخودرا که مظنون به بمب گزاري دریك طیاره خط هوایي پان امریکن هستند به امریکا تحویل دهند

دفراه په ولایت کي داسمعیل خان اوطالبانو دقواوو ترمنځ خونړي جګړه روانه ده

* دجګړي په بهیرکي طالبانوته دسراومال درانده تاوانونه رسیدلي او (۱۲) کسه یې ژوندي نیول شوي دي

فراه د وري (١٤) مه :

دفراه ولایت څخه رارسیدلي رپوټونه وایي چي په تومورې ولایت کي داسمعیل خان او طالبانو دقواوو ترمنځ خونړي جګړي رواني دي او پدي جګړو کي طالبانو ته دسراومال درانده تاوانونه رسیدلي .

په یوه خبرکي ویل شوي چي د وري دمیاشتي په (۱۲) مه نیټه طالبانو دفراه ولایت له مرکز څخه دشینډنډ د هوایي ډګر په لور یوتعرضي برید پیل کړچي په نتیجه کي له یوکیلومیتر پرمختګ وروسته بیرته شاتګ ته مجبور اوډشبي له خوا په

(۳)مخ

محمد کریم خلیلی به صفت دبیرکل حزب وحدت اسلامی برگزیده شد

درجلسه مشترك شوراي مرکزي وشوراي عالي نظارت حزب وحدت اسلامي

درستراتیژي حزب وحدت تغییري به میان نیامده است

مزارشریف-۱۳ حمل :

آقاي کریم خلیلي بحیث دبیر کل حزب وحدت اسلامي افغانستان انتخاب شد .

گزارش هاي رسیده ازشهرمزارحاکیست: روز یکشنبه درجلسه مشترك شوراي مرکزي وشوراي عالي نظارت حزب وحدت اسلامي به اتفاق آراء آقاي کریم خلیلي به حیث دبیرکل حجة الاسلام عرفاني به صفت معاون وآقاي بلاغي درسمت رئیس سیاسي این حزب برگزیده شدند .

بعد ازشهادت استاد عبدالعلي مزاري دبیرکل حزب وحدت اسلامي بدست طالبان ، شوراي قبلي آقاي کریم خلیلي را بحیث سرپرست مؤقت این حزب تعیین نمود .

محمد محقق سخنگوي حزب وحدت اسلامي دریك گفتگوي تیلفوني درباره باراديوي ابي بي سي) نحوه انتخاب دبیرکل حزب وحدت اسلامي گفت : اولین جلسه مشترك شوراي مرکزي وشوراي عالي نظارت حزب وحدت اسلامي درمزارشریف برگزارشد که درآن روي انتخاب دبیرکل این حزب وحدت صحبت هاي مفصلي صورت گرفت که درنتیجه جناب استاد خلیلي بحیث ریس شوراي مرکزي ، استاد بلاغي غزنوي بحیث رئیس کمیته سیاسي

ص(۳)

کنفرانس محیط زیست بکار خود ادامه میدهد .

بن - ١٤ حمل :

کنفرانس جهاني درباره آب وهوادرآلمان همچنان ادامه دارد .

قرارگزارش خبرگزاري هاودمسئله اصلي درین کنفرانس یکي درجهت حجم کاهش گازکاربن طي سال آینده وديګري نحوه رأي گیري براي

ص(۳)

اداره کابل خواستار بازگشایی سفارتخانه ها ونمایندگی های کشورهای خارجی درشهرکابل شد

کابل - ۱۳ حمل

اداره کابل طي اعلامیه یي ازملل متحد وسایر کشورهاي که دفاتروسفارتخانه هاي شان رادرکابل مسدودنموده اند تقاضانموده که نمایندگي هاي شان را مجدداً فعال سازند .

راپورهاي واصله ازولایت کابل حاکیست روزیکشنبه اداره کابل بانشر اعلامیه یي اظهارداشته که اکنون وضع درکابل آرام بوده ، تهدید راکت باران وامکان جنګ درشهرازبین رفته وزمینه کاروفعالیت براي نماینده ګي ها ودیپلومات هاي خارجي مساعد میباشد .

ص(٤)

وروره‌حکمتیاردپکتیاولایت دمختلفوقومونو،سپین ږیرو، علماوواوقوماندانانویوي درني غونډي ته په ویناکي :

(په تیریسي)

زه باورلرم که پکتیامتحده شوه نوافغانستان متحد اولدی دردناک حالت نه به ژغورل کیږی

• متاسفانه هغه سنګرونه چي مونږ دری کاله ساتلي وو ،طالبانو دریوهفتولپاره ونشوساتلای

• مونږنه غوښتل هغه کسان وورتو چي دطالب په نامه راولاړشوي دي

• که په افغانستان کي زمونږ دشهداؤارمان ترسره کیږي مونږ مزیدي قرباني ته تیارشو یو

(۳)مخ

جنرال رحیم پهلوان دوباره به جنبش تسلیم شد

رحیم پهلوان باسه صدتن ازافرادش به جنرال رسول پهلوان یکتن ازقوماندانان جنبش ملي تسلیم شد .

گزارش رسیده ازولایت فاریاب حاکیست : جنرال رحیم پهلوان قبلاً درترکیب نیروهاي جنبش ملي اسلامي شامل بود ولي قبل ازسقوط بالاحصاروتپه مرنجان باقواي اداره کابل سازش نموده ومناطق بادشده رابه شوراي نظار سپرد وازجنبش ملي کناره گیري نمود. نامبرده درین اواخرازعملکرد خودپشیمان شده ودرولایت فاریاب دوباره باجنبش ملي یکجاگردید.

گزارش مینگارد : عدهٔ ازموسفیدان

ص(٤)

ازبکستان بما وعده داد که نیروهای خود راز تاجکستان خارج سازد

اکبرتوره جان زاده

دوشنبه - ١٤ حمل :

اکبرتوره جان زاده رهبر نهضت اسلامي تاجکستان طي مصاحبه ئي باراديو بي بي سي پیرامون گفتگوبارئیس جمهور ازبکستان اظهارداشت : ماطرح خودرا به اطلاع اقاي کریوف رسانیدیم ومذاکرات درفضاي دوستانه برگزارشد .

وي افزود: درین ملاقات درباره حل مشکلات تاجکستان بحث نمودیم که ماازاین ملاقات راضي هستیم ودرمسایل نظرمامشترك بود . مادرین مذاکرات که نخستین دیدارمابا‌آنهابود، به ایشان تاکید کردیم : سخنان وطرح مارا شخصاً به بلنس برسانند .

وي افزود : درین ملاقات کریوف پیشنهاد نمودکه بارهبران جمهوري هاي

ص (۲)

کنفرانس اسلامي درخرطوم گشایش یافت

خرطوم -١٤ حمل:

امیرجماعت اسلامي پاکستان قاضي حسین احمد طي بیانیهٔ افتتاحیه خویش درکنفرانس ممالک اسلامي جهان به نمایندگي از پاکستان وکشورهاي جنوب شرق آسیا اظهارداشت که : اگر ممالک اسلامي وامت مسلمه تعلقات نیك وهماهنگ با هم نداشته باشند،قوت هاي استعماري غرب یکي بعد دیگري را برمسلمانان مسلط خواهند ساخت .

وي افزود،بعدازز وال اتحاد شوروي سابق امریکا میخواهد برتمام جهان سلطه داشته باشد وتوسط اسرائیل وهند تمام ممالك اسلامي را تحت سیطره خویش بیاورد.

درین کنفرانس رهبر نهضت اسلامي

ص(٤)

برخي ازسران نهضت هاونمایندگان کشورهاي اسلامي حین سخنراني درکنفرانس اسلامي منعقدهٔ خرطوم

سیمینارحج در شهر کویته برگزارشد

اسلام آباد - ١٤ حمل :

سیمنایبن المللي حج روزدوشنبه درشهرکویته پاکستان برگزارگردید.

بگزارش خبرگزاري جمهوري اسلامي درین سیمینار که شخصیت هاي مذهبي وسیاسي ازکشورهاي پاکستان، ایران، یمن وسودان اشتراك ورزیده اند براعلام برائت ازدشمنان اسلام با لخصوص امریکاورژیم صهیونستي درمراسم حج تائید شد.

اشتراك کننده گان سیمینار درمورد اینکه کنګره بزرگ حج به عنوان فریضه سیاسي وعبادي مورد توجه قر گیرد به بحث وتبادل نظرپرداختند . درین سیمینار برحفظ وحدت تمامي امت اسلامي ، مقابل کفر تائید ودرباره حفظ حرمت وعظمت خانه کعبه ... امد.

د بي نظیري وېناوي دامریکایانو دخوښي له پاره دي

مرتضي بوتو

کراچي - دوري ۱۳ مه :

دبي نظیربوتو ورور میرمرتضي بوتو ویلي، چي داپریل په ۱٦ نیټه به دخپل تنظیم په ایالتي مشرانوسربیره خپل بشپړتشکیلات اعلان کړي .

ده دژورنالستانو سره دخبروپه ترځ کي وویل، چي داپریل په (۱۱) نیټه به دبلوچستان څخه خپل تحریك پیل کړي .

ده دبي نظیربوتو ګوند دپچارو اوپیسو ګوندیاله مرتضي زیاته کړه ،چي دبي نظیربوتوسفرامریکاته پرته له ظاهري خبرونورڅه نتیجه نه لري اوبي نظیرچي په اوس وختونوکي څه وېناګانې کوي دامریکایانودخوشحالي له پاره دي

ده زیاته کړه حکومت ... چي ...

(٤)مخ

وضع حدود برانتقال اموال تجارافغانی، لطمه بر آزادی افغانستان است

اسلام آباد - ١٤ حمل

دور اول مذاکرات تجارتي پاکستان وافغانستان دراسلام آباد پاکستان آغاز گردید.

منابع خبري پاکستان گزارش داده اند که هدف ازین مذاکرات ایجاد سهولت درانتقال اموال تجارتي افغانستان از بندرکراچي وجلوګیري قاچاق اموال مذکور بوده است.

درین مذاکرات هیئت افغاني با هیئت پاکستاني به توافقاتي دست یافته وطرفین برسرتشکیل دو کمیسون موافقت نمودند

ص (٤)

سر مقاله

بنام خالقیکه بي اندازه مهربان ونهایت بارحم است

دحمل پنځلسمـــه هـــم تیره شــوه خو ...

دملګروملتوخاص استازي محمودمستیري اعلان کړي و چي استادرباني به دحمل په پنځلسم تاریخ اقتدارموقتي شوراته سپاري دافغانستان مسلمانووګړو دغه ورځ ته هم انتظاروویست ترڅوګوري چي رباني خپل غیرقانوني واکمني موقتي اداري ته سپاري که نه ؟ هغه ورځ هم را ورسیده لیکن رباني دخپل عادت مطابق بوځلي بیا داقتدار پریښودوته زړه ښه نکړاودملت دغم پیښي ئي لاپسي دروند کړ.

له چهارآسیاب نه دطالبانو په شاتمبول اوله حزب وحدت څخه دسیموله نیولو وروسته ، رباني اوانډیوالان ئي فکرکوي چي نورنوهرډول مصیبتونه اوکړاوونه له منځه تللي اودافغانستان واکمني یوازي همدوي ته پاتي ده او هیڅوك نشي کولي چي دوي له اقتدارنه وغورځوي ، همداوجه ده چي درادیواو اخبارونوله لاري داسي تاثرورکوي چي ددوي مخالف قوتونه له منځه تللي اوپه کابل کي ویره اوجنګ ختم شویدي ملت باید نورهیڅ ډول ډاراوویره ونکړي اوله کابل نه مهاجرشوي کورني دي بیرته کابل ته راستني شي، رباني صیب اوملګري ئي پدې باوردي چي دکابل له شاوخوانه دمخالفو قوتونو په شاتمبولو نور ددې ضرورت نشته چي له اقتدارنه لاس واخلي اوحکومت دملت نماینده ګانوته وسپاري، لیکن حقیقت دادي چي دادهغوي یوخام خیال اوغلط فکردي یواځي دکابل ښار په نیولو په ټول افغانستان حکومت نشي کیداي اونه به دکابل دښارپرنیولو آرمان ئي پوره شي کیداي شي چي څه وخت له پاره یواځي په کابل ښارکي په آرامي سره حکومت وکړي اومحدود وخت له پاره دکابل ولس هم دجنګ دمشق تخته ونه ګرځي، لیکن لدې حقیقت نه هیڅوك سترګي نشي پټولي چي دلوږي تندي ،غریبي اونوروشکلاتوڅخه به په هیڅ ډول په امان کي پاتي نشي، همداراز دافغانستان مسلمان ولس به لکه دپخواپشان اقتصادي تعلیمي روغتیایي اوپه نورو برخو کي سوزیږي ، رښتیا خبره همداده چي په زوره مسلط شوي حکومت دملت له پاره کړاوونه اومصیبتونوته پرته بل هیڅ څه ارمغان نشي راوړلاي بلکي ملت دجنګ اوجدل په میدان بدلوي .

که رباني صیب اوملګري ئي غواړي چي دافغانستان مسلمان ملت دامن اوهوسا ژوند خاوندان شي په هیوادکي جنګ خاتمه ومومي نوبیا ورته پکاردي چي په زوره دحکومت کولو لاره پرېږدي،دخپلي انحصارطلبي اوجاه غوښتني بت دي مات کړي او دهغي پرځاي دي ملت ته رجوع وکړي، افغانستان دچا شخصي ملکیت نه دي اونه دچاشخصي غنیمت دي چي ووایي موږپخپلومټوپه غنیمت کي نیولي دي اویل هیڅوك وریاندي حق نلري افغانستان دټولو مسلمانوهیوادوالو ګډ کوردي اوټولو په یولاس اویوغږدخپلي خاوري دآزادولو له پاره خپلي ویني توي کړي اوهره کورني ځاني اومالي قرباني ورکړیدي نوځکه هرافغان ددي حق لري چي پخپل هیواد کي دخپلي خوښي سره سم رښتوني منتخب اسلامي حکومت جوړکړي ، دافغانستان غیرتي اوقهرمان ولس به هیچاته ددي اجازه ورنکړي چي دهغوي له خوښي اوګډون پرته پردوي په زوره مسلط شي اوحکومت وریاندي وکړي، رباني اوودده ملګري باید داحقیقت درك کي چي دوي دملت دآرمانونو اوحقوقو پرخلاف ګام پورته کړي

(٤)مخ

سخن روز

استکبار درپی نابودی امت و رسالت تنظیم های جهادی

اسماعیل خلیل

بعدازآنکه ارتش سرخ دربرابرمجاهدین عزیزاسلام شکست خورد ونیروي رزمي روسیه شوروي به تحلیل رفت،استکبارجهاني لبه تیزتیغش رابسوي اسلام ومسلمین برگردانیده وتاحدي پیش رفت که حتي سران «ناتو» بیشرمانه خواهان استمداد علني، جهت سرکوبي مسلمانان، ازدوستان شان گردیدند.

استکبار میداند، هرگاه حکومت نیرومند اسلامي درگوشه یي ازعالم استقراریابد، دیگردشمنان انسانیت «مستکبران» نخواهند توانست گوشت ،پوست وخون مردم مستضعف جهان را بخورند وبنوشند. آنهاخوب میدانند که بانیرومندي مسلمین، شکست طلسم برده داران عصر « اتوم» باره بگردراوراق تاریخ رقم جاودانگي مي خورد . زیرا : مبارزه این مکتب « اسلام » به منظور اخراج العباد من عبادت العباد إلی رب العباد بوده است.

پس باپیروزي نظام اسلامي ،سیاست اسلامي درجهان حاکم میگردد . وسیاست اسلامي جز اخراج الناس من الظلمات إلی النورچي باشد.

این سیاست وحکومت (اسلام) مردم را ازتاریکي هاي جهل ظلم، ستم ، خیانت ، تجاوز، غارت ، حق تلفي ... وبیدادگري بسوي نور، رهایي ،آسایش ،آرامش ،امنیت ، سعادت ... نظم وقانون فرامي خواند . ودرآن زمامداربه جزخادم مردم نمي باشد. درنظام اسلامي امیربمنظورحفظ شیرازه اجتماع اسلامي سیرلي خواید و خودرا مکلف ومسئول میداند تا ازرعایایش وارسي وسرپرستي نماید.

دراسلام ، نظام وحکومت بمنظور خدمت به خلق، آسایش ،آرامش ،دفاع ازآبرو،عزت ، مال، شرف وناموس مردم مي باشد. بناءً به فرموده امام راغب اصفهاني عمارة الارض ، تنفیذاحکام الله ومکارم الشریعة عبارت ازسیاست وحکومت اسلامي مي باشد.

حاکم مسلمان مکلف است تازمین رااعمار نموده ، راه ترقي وتعالي امت اسلامي راجستجونمارد . زیرا زمین وآسمان راخداوند براي انسان مسخر گردانیده تاازآن استفاده نموده واحکام خدارا درروي زمین تنفیذوتطبیق نمایدوپایه هاي اخلاقي رابه اکمال رساند. چنانچه رسول اکرم صلي الله علیه وسلم فرموده اند : مبعوث گردیدم بحیث معلم تامکارم اخلاق راتکمیل نمایم . بلي اکمال مکارم اخلاقي امروز بدوش امت بالعموم و بدوش خلافت اسلامي بالخصوص مي باشد.

پس بهود ونصارامیدانندهرگاه حکومت اسلامي بدست مجاهدین افغان که ارتش شکست ناپذیرسرخ ! را مجبوربه فرار نمود، درکشوري چون افغانستان اساس نهاده شود، دیگرممکن نخواهد بود به حرکت هاي ظالمانه و ضدانساني شان درجهان ، ادامه بدهند.

مشخص است حکومت اسلامي که مدافع حقوق مستضعفان روي زمین مي باشد جلوتکتازي هاي آنهارا سد شده وآنهارا سرجاي شان مي نشاند .

بناءً آنها درتلاش بوده وهستند تا حکومت اسلامي درافغانستان تحقق نیافته ، نایره جنگ براي مدت مدیدي مشتعل بماند که متاسفانه عملکردهاي نادرست ، انحصارطلبي ، وقدرت خواهي هاي عده یي ازدوستان به آسیاب دشمن آب ریخت وصدمات جبران ناپذیري رابرپیکرانقلاب اسلامي ومجاهدین عزیز وارد آورده است .

چنانچه ادامه جنگ وخونریزي وبرادرکشي موجب شدتامجاهدین روزتاروز وجاهت کسب شده دوران جهاد را یکي بعددیگرببازند وازمحبوبیت شان دربین ملت کاسته شود .

دشمن بااستفاده ازین فرصت افراد مزدور وبقایاي رژیم هاي گذشته را وارد عمل نمود. این افراد دیکته شده ازبیرون ،بدون تمیز خوب وبدباهمه یکسان معامله راآغازنموده ، حتي کسانیکه فریب نام نیاد آنهارا خورده باآنها توافق نموده ، پیمان بستند بودند، خلاف عنعنات ملي وقوانین شرعي و بین المللي باآنها عمل ناجوانمردانه نموده ، تعدادي ازمجاهدین رابه جرم مجاهد بودن زیرتل خاك نمودند . این گروه عهدشکن وبي پیمان ازین هم پافراترنهاده ، از اهانت به حیثیت جهادومجاهدین پاکبازنیزکوتاهي نه نمودند .

باید اعتراف کنیم این فرصتي بودکه ماخودبه آنها دادیم تامجاهدین رامفسد خوانده ، ازهمه بخواهند حتي سلاحي راکه به قیمت خون شان از دشمن روسي به غنیمت گرفته اند، به آنهاتسلیم نمایند وهمچنان ازتشکیل حکومت بامجاهدین ابراز تنفر نمودند. ولي داستان کي تااین جا پایان مي یابد، آنهامي خواهند تاافغانستان رایکسره ازآن خود نموده ، مجاهدین را اسیر وغلام گردانند. شهرهارا یکي بعددیگرتسلیم گیرند ودایره نفوذ ونفوس شان راگسترده گردانند . زیرا بااشغال شهرهاي بیشتر به برنامه هاي استعمارزیر پرده تلاش هاي صلح ،نیز کمك صورت میګیرد .

یکي ازاهداف مهم دشمنان جهاد ماابن است که افغانستان خلع سلاح گردد ومجاهدین ازدایره نظامي وسیاسي بدورانداخته شوند .

پس ادامه جنگ وخونریزي میان تنظیم هاي جهادي به نفع استکبارجهاني ودشمنان منطقوي جهاد افغانستان که لباس دوستي رابه تن دارند ،مي باشد . ملت ،مجاهدین وتنظیم هاي جهادي ازجنگ و برادرکشي هیچ سودي رانخواهند برد . چنانچه تجربه تلخ سه سال اخیر نشان داد که هیچکس برنده نبوده وهمه درجنگ بازنده شدند ، ولي نفع رااستعماروا بادي شان برد .

جنگ سرمایه عظیم دوران جهاد مجاهدین رابعلید ، انبارهاي سلاح که باید دربرابر دشمنان اسلام ،استقلال وتمامیت ارضي وهویت اسلامي کشوراستعمال مي شد درجنگ في مابین نابودگردید .

باید اذعان کردکه دشمن ازانبارهاي اسلحه ومهمات ،تجربه جنگي وسرمایه عظیم جهاد (مجاهدین) احساس خطرمي نماید، ودرتلاش است تااین هرسه راازکف ملت مظلوم مابرباید وراه ربودن آن اشتعال جنگ ونایره آتش درکشورمامي باشد .

مادام که این وضعیت درکشور ما ادامه یابد،ممکن نیست درخوشبختي وسعادت بروي مردم ماگشوده شود. براي اینکه ازسرمایه مادي ومعنوي امت اسلامي پاسداري گردیده باشد راه مقبول ومعقول این بوده واست تاهمه روي تشکیل حکومت قابل قبول کنارهم آمده ،گذشته هاي درد آوروآندوهناك رافراموش نمایند . با ایثاروخودگذري پایه هاي حکومت ناب اسلامي راکه خواست اکثریت قاطع ملت ماست اساس بگذارند ، تادیگرانسان امروز درپاي بت هاي انسي « استکبارجهاني واعوان شیطان شان در منطقه » جبین نساید وملت عزیزما، عزیزوسربلند به زندگي باهمي خویش آغاز نماید، تابیشتر ازین ازکاروان ترقي وپیشرفت عقب نمانده باشد .

پس بیائید باخدا تعهد بسپاریم وبحیث مسلمانان حقیقي درراه خدمت به انسان وانسانیت گام بگذاریم وتیغ استکباررابه جگرخودش فروبریم .

لویدیزه نړۍ که داسلام ددښمنانو "سرپناه" اسلامي خوځښتونه او تپل شوی حاکمیتونه

اکبري

زمورملت فکرکاوه چي دروسانوله ماتي او روس پلوه رژیمونوله راسکوریدو وروسته به بي هم دګټلي اتلوالي وقاراوحیثیت پرځاي پاته شي اوهم به يي دهغه ارام ژوند خواړه اوسکون په برخه شي چي دهغه په خاطربي دبیدریغه قربانیو په وړاندي کولو نړیوال ګوته په غاښ حیران پاته وو.

هوا

په کوم کچ چي نوروته دافغانانو دتاریخي فتحه اومقاومت دپیژندني اواهمیت وروبه هغه اندازه افغانانو دافکرنه کاوه څکه افغانان یوازي اویوازي پدي پوهیدل چي روسان بي په رسواماتي سره له خپلي خاوري څخه وویستل اوهم بي دروس دالحادي نظري مرهون رژیمونه له واك څخه راوغورځول خوهغه څه چي پدي برخه کي نړیوالوته له خیال اوتصورڅخه هم لوړیریښیدل هغه دیوي نظري سکوت، دیشانه تلولتکي ځواك بوت پرزمکه پریوتل ،دنړي پرتیمه کره دمسلطي امپراتوري دېغرېولیدل اودنړي دیوستر مادي بلاك ماتي اوبه ګرندوکیدل وچي دافغانانو دافغاني شهامت اوقهرماني دتاریخي رسالت په رسولوکي وربه برخه شول، له هندي امله ګردي نړي اوبالخصوص نړیوال استکباري ځواك (امپریالیزم) دافغانانودي سترافتخاراوتاریخي رسالت ته په دیرودقت اوهم په راتلونکي کي دیوسترخطر په نظروکتل.

تردي دمخه نړیوال امپریالیزم (امریکا) دنه پخولاکیدونکي رقیب (کمونیزم) داوهامو په داسي تیاره اوځلوردیوالیوکي دځیل پانګوال نظام ایساریدل احساسول چي ورڅخه دوتلو لاري اوګودري نه لیدلي اولکه دمیږو (ګیږو) په ځیربه بي هروخت دکمونیزم لیوه په سترګوکي انځوریده. څوکله چي دالیوه دافغانانو په جبهه زاره کي ونښت اوامپریالیزم ویوهیدچي دلته به یادکمونیزم پښي ماتیږي اوبابه دپنجوتینګیدلوبه صورت کي دګردي نړي پرستوني پنجي پنځوي.

څرګرنګه چي امپریالیزم اوبه تیره بیا انګریزي استعمارګروته دافغانانوتاریخي هویت ،شهامت او نه ایلیدونکي مزاج له پخوانځه به معلوم ونوپدي هم باوري ووچي دافغانانوسره دلاس امداد کولو په صورت کي به دخپل سترقیب (کمونیزم) پرګوراورولګوي، رښتیا هم چي همداسي وشول اودروسي امپراتوري تردېري لبري پوري غڅول شوي مړاندي دافغانانو دایماني مټو په زوروشلیدلي اودوارساډیکت پراندیوالانوژلوله ګه اودتجزیي بادپري راوالوت همدالامل دي چي نن له هره پلوه دامپریالیزم ترګوابنونو اوفشارلاندي راغلي، دپخواني دهشت اوځواکمنتیا موت بي دنړیوالوبه وړاندي توتي توتي پرزمکه راپریوتي.

کله چي دناتوډیکت الهیوالانوووارساډیکت اوبه سرکي دروسي کمونیزم دسره ښامارسره په وتــــرولیـــــده اولـــــدي پلـــولــــه تهدیداووریپښیدونکوخطروڅخه مطمئن اوواره شول نوبي دازادي دعلمبردارانوبه عزت اوخـــــپلواکــــــي میښو،داناســـــي کراماتوبرمحافظینواودبشري حقوقـــــو په ریښتوني پیژندونکومسلمانانوبه سپکاوي ،دښمني ، دداخلي اوخارجي مشکلاتو سره دلاس ګریوان کولو اوان تردي چې دژوندبه تولودګرونوکي ددول وول توطیواو دسیسو پیلولوبس بي پیښي راپورته کړي، اوبدي ناوړه عزم اومرام کي دومره وړاندي ولاړل چي پرمسلمانانوبي دخپلوهیوادونوبه غیږوکي دژوند تیرولو کړي تنګه اوډژوند تیرولو خوابه بي پري دزهروبه ځیرترخه کړي دي.

نړیوال امپریالیزم نه یوازي دمسلمانانو په مادي ښکیلاك اوځیښتاك بسنه نه کوي بلکي په هرځاي اوسیمه کي داسلام دتوهین اوهرزي ایستلو په هره ناوړه دسیسه اوپروسه کي دهغي په لاتقویت اوملاتړ کي په ډیره بي حیایي اوبیباکي ونډه اخلي.

ګوروچي په بنګلدیش کي تسلیمه نسرین، په انګلستان کي سلمان رشدي او په پاکستان کي هغه دوه کسه مسیحیان چي له اسلام سره په دښمني کولوبي دغربیانوبه زړونوکي داسي ځاي نیولي چي نه یوازي ورته په ځپلوهیوادونوکي دپناه ورکولو ژمنه اوبلنه کوي بلکي دلاري دکرایي مصارف بي هم برغاړه اخلي ځمویدي ډول له هغه خطرڅخه چي په احتمالي ترګه دځینومسلمانانو لخوابي دوریپښیدو په هکله اټکل کیږي ورڅخه بي خوندي وساتي.

داچي دمسلمانانو په عقیدوي حریم اومقدساتوهرځومره زیاتي ملتوي وهل کیږي په همغه کچ ددغو مخالفینو دکفري نړي لخوادبشري حقوقـــــوترپردي لاندي دمرتکبینوتحفظ اوژوندي پاته کیدو ضمانت کیږي.

هوا

په داګه ده چي په کفري نړي کي دوګروڅوابي دکفري اصولوغوښتونه نه یوازي داچي مثبت ځواب ویل کیږي بلکي پدي لاره کي تشویق اوترغیب اوهم ورته دپاداش ورکولو حقوق په نظرکي نیول کیږي. هغوي دکفري اصولو اونګاڼي په خپلولو سره دکوم مجرم په حیث نه پیژندل کیږي، له خپلي خاوري اوکورڅخه نه شړل کیږي، دلیوني ،وطن دښمني او تخریب کارپه نوم نه نومول کیږي بلکي هغومرتدانوته هم په خپلو غیږوکي ځاي ورکوي چي داسلام ،مسلمانانو اوله اسلامي خاوري سره دکفراوخیانت لاره خپله کړي.

اوس به راشوداسلامي نړي ،تش په نامه، اسلامي حاکمیتونوته ،چي: له اسلام او مسلمانانوسره دکوم ډول سلوك اوتګلاري چلندکوي.

له کوم تظاهراوریاڅخه پرته به داخبره وشوچي په اسلامي نړي کي دمسلمانانو وګرو لخوااسلامي اصولو دخپلولو اودهغوبه سیوري کي دژوند تیرولو غوښتنه دیونه بخښونکي جرم په بڼه دریدل اوبا خوبي سنندرته ځان غورځول دي ځکه چي داسلامي اصولوغوښتونکي ولي اواشخاص نه یوازي دمذهب دلیونیانو،دخاوري ددښمنانو، دوارانچوڼکواوتېولني دمخربینوبه نوم نومول

(۳)مخ

اولویت های جهاد، وضرورت از خودگذری

ماکنون سال نوهجري خورشیدي راآغازکرده ایم وقسیکه ا:تامش هریداشت براي استقبال شایسته ازآن برنامه هاي نوونازه بي هم باید داشته باشیم. نوروزامسال چون سالهاي گذشته براي همه هموطنان مظلوم وبلاکشیده ما پیام ومژده امیدبخشي نداشت. اوضاع کشورهم چنان مغشوش بوده ودرآفاق کشورهنوزابرهاي تیره وتاریك کدورت ها وکشمکش هابه مشاهده مي رسد.

علي الرغم صدمات جبران ناپذیرمادي ومعنوي ناشي ازاختلافات ذات البیني گروه هاي جهادي بربیکرملت ،هنوزهم اکثریت مطلق مردم مسلمان ماتوقع دارند که بازهم مجاهدین برگذشته هاي شان تجدیدنظرنمایندونگذارند که زمام امورکشور دردست آناني بیفتدکه خودمسبب واقعي این تراژیدي هولناك اند.

دشمنان، بیشتر ازگذشته امروز خودرا به اریکه قدرت آینده افغانستان نزدیك تر احساس مي کنند وحتي به تقسیم چوکي هاومناصب میان خویش مي پردازند. ادامه جنگ و خون ریزي تنهابه نفع استکبارواپادي مترصدونگران آن تمام مي شود. شما خودبه چشم هاي تان مي بینید وباگوش هاي خویش مي شنوید که همه گروه هاي ضاله ومزدور مصروف هتك حرمت به جهادومجاهدین اندوگستاخي آنان تابه حدي رسیده که ازتشکیل حکومت بامجاهدین ابرازتنفرمي کنند واین بزرگ ترین اهانت به حیثیت مجاهدین قهرماني است که افتخارشکست وانهزام بزرگترین ابرقدرت خون آشام جهان راکمایي کرده اند وهیهات وهزارافسوس که باسقوط رژیم منحط وفاسد داکترنجیب قاتل، آنان نتوانستند حکومت مورد اتفاق خودرا درکشورمستقرسازند واشتباهات نهایت خطیري را که برخي گروه هاي تشنه قدرت وانحصارطلب مرتکب شدند، لطمات وصدمات آن تاسالیان دیگردرافغانستان ماتم زده قابل جبران نخواهد بود.

باوجود تمام این ضایعات عظیم انساني ومادي هنوزهم مردم مااسلام وحکومت اسلامي خواسته ومي دانندکه به غیرازنظام اسلامي تمام قرباني هاي آنان به هدرخواهدرفت وبازهم نظام دیگري خواهد آمدکه جنایات کمونیست هاي خلقي وپرچمي راقراموش شان کند وبراي حفظ و ادامه قدرتش به ناچارغلام ویره ابرقدرت کفري دیگري خواهد گردید برمبناي همین برداشت است که ملت شهید پرورماهرچندازگروه هاي جهادي نسبت اختلافات ودرگیري هاي خونین سه سال اخیر آنها خاطره خوشي ندارندولي باآن هم حاضرنیستند حکومت ساخته وپرداخته کفارصلیبي ویهودي رادروطن اسلامي خود تحمل نمایند.

مردم مسلمان افغانستان امروز نیز خواهان نزدیکي ، همنوایي واشتراك مساعي همه احزاب وگروه هاي جهادي به خصوص حزب اسلامي افغانستان وجمعیت اسلامي مي باشد.

راه معقول ومطلوب آن است که علي العجاله همه گروه هاي دلسوزبه اسلام ومسلمین روي تشکیل یك حکومت قابل قبول براي همه جوانب باهم کنارآمده وبه این امرتوافق صورت گیرد که ادامه اوضاع کنوني به نفع هیچکدام نیست. دشمنان اسلام ومخالف هویت تاریخي افغانستان به هیچ قیمتي نمي خواهند درافغانستان حکومت باثبات ومقتدرمرکزي به وجود آید. آنان ازتجربه جنگي ملت ما انبارهاي عظیم اسلحه ومهمات وآینده منابع شان درکشورمادرهراس مي باشند. روي این انگیزه سعي مي ورزند به لطایف الحیل ازاوضاع مشتج وفضاي عدم اعتمادحاکم براحزاب وگروه هاي جهادي سوء استفاده عظیمي نمایندتاباین وسیله ازاستقرار اوضاع درافغانستان جلوگیري بعمل آورند.

تاجایي که به حزب اسلامي افغانستان مربوط است افغانستان خانه مشترك تمام اقوام وملیت هاي ساکن دراین مملکت بوده ،سرنوشت وتاریخ مشترك ودین مشترك عامل عمده بقاي آن به شمارمیرود .هرنوع راه حلي غیرازاسلام، دروطن اسلامي ماصلح وامنیت رابه ارمغان نخواهد آورد. فقط درروشنایي تعالیم نجات بخش اسلام است که مامي توانیم به تأمین عدالت اجتماعي واقعي درکشور خود موفق شویم وحقوق همه اقشار وطبقات مردم رادرآن تحقق نمایم.

باید ازتجارب نکبت بارگذشته همه آموخته باشیم. تکرارآن تجارب تلخ نه به نفع ماست ونه به نفع اسلام ومسلمین. همانگونه که گذشته سه سال اخیرنشان دادهیچ حزب وگروه به تنهایي نمي تواننددرافغانستان صلح وامنیت رابه بارآورد .لذابراي تحقق این مأمول شریف باید به هرفردمسلمان کشورحق دهیم تادرتعیین سرنوشت کشوروآینده خویش آزادانه سهم گرفته وارادهٔ خودرا ابراز دهد. سیاست حذف وبادیده گرفتن دیگران باید همیشه کنارگذاشته شود.سعي گردد تاایثاروازخودگذري لازم [illegible] جهت نجات کشورازخطر تجزیه وتشتت هرچه بیشترفراهم نموده وهمه امکانات خودرابراي استقرار صلح وثبات وایجاد نظام وحکومت مقتدرمرکزي که ازخواسته هاي فردفردمسلمان افغانستان نماینده گي نماید، به کاراندازیم. به امید تحقق چنین هدف خجسته ومرهم گذاري برزخم هاي بیکران ملت شجاع وخداپرست افغانستان.

دبنیادګرایی په پلمه، داسلام پر ضداستکباری هلی ځلی

(س - ن) کندزي

په دي شیبو او ورځوکي د بنیاد ګرایي اودهشت اچوني په نامه دکفري نړي هڅي دمسلمانانو دتکوني لپاره چټکي او تندي شوي چي د ورځپاڼو او راډیو ګانو سرلیکونه او پاروونکي مقالي بي د همدغه هدف په محور څرخي. دامریکا شیطاني پراګرامونه چي داسلام دمختیري په خاطر بي په کار اچولي وو هغه ټول شنډ او دکفري نړي په ناامیدي بي پاي ومونډ. خو استکبار دهغه ویري له امله چي له اسلام اومسلمانانو څخه بي لري خپل ټول زور په یوي نوي دسیسي چي هغوي بي بنیاد ګرایي اودهشت ګردي بولي اچولي، او غواړي چي کفري نړي خپل تروریستي اوددهشت ګردي جنایات چي په اصل کي عاملین بي پخپله غربي هیوادونه دي پرمسلمانانو مبارزینو وتپي داځکه چي د نورو لاروچارو، مکرونو اوحیلو په کار ولو سره بي اغراض ترسره نشول او نه ورته بي له دي چي دتکونو لپاره بي دمخدره مواد و په پلورلو، قاچاق دولواوتروریستي اعمالو په تورونوبي پیاوړي اوتلي رښتیني سیاسي مشران تورن کړي او له منځه وړلو لپاره بي په اصطلاح څه بین المللي اصول او جواز ترلاسه کړي بله لاره نلري نن سبا چي په کوم ځاي اوملك کي سیاسي قتل یا واکي وشي نواستکبار بي ژرځنده دهغي پړه اوملامتي پرمسلمانانو اچوي اونړیوال دمسلمانانو په نسبت شکمن کوي حال داچي داسلام مبارك اومقدس دین دبي ګناه خلکو د وژلو، دمال څورلو اود آزادي دسلبولو اجازت نه ورکوي مګر په جرم سره چي هغه به هم په شرعي محکمه کي دقرآن د حکم په رڼا کي صورت نیسي او دهغه مجرم به انډول په سزا ورسي. اسلام دهیڅ سره دښمني نه لري او نه تحمیلي رژیمونه اوغوښتني مني. داسلام مقدس دین، دعدالت، هوساینې، آزادي اودانسانیت دین دي چي په دغه دین کي ټول انساني ،اخلاقي ،اجتماعي ،اقتصادي حقوق خوندي اومحشون دي. داسلام په بشپړ او تعبیر نه هنرنکي دین کي دچا په ناموس ، مال ، هستي او ژوند باندي تیري اوتجاوز ناروا اوناجایز ګڼل شوي نو څنګه کیداي شي چي مسلمین په داسي اعمالو لاس پوري کړي چي هغه اعمال دي داسلامي اصولو پرخلاف وي؟ خو نوروته اجازه هم نه ورکوي چي په اسلامي عقایدو اوشرعي حقوقو دي نور منحرف قوتونه لوبي وکړي چي دهندي حکم په اساس افغان مجاهد اولس نه غواړي چي یادکمونیزم په ګړیه کي بند او یادااستعماري نړیوال امریکایي نظام په دام کي ونښلي نو ځکه مسلمانان نن دامریکا اونورو ښکیلاکي ځواکونو دسترګو اغزي ګرځیدلي او په واز وراز ضد انساني او ضد بشري اعمالو بي تورنوي.

استکبار چي په راس کي بي امریکا قرار لري، مسلمان تحریکونه دافراطي اوبنیادګرایي په نوم دځان او جهان دښمن ګڼي خو په حقیقت کي دغه تحریکونه دبشریت ضد نه، بلکي دانساني ژوند دحقوقو دحامي په ځیر دتولنیز حیات دهوساینې په خاطر، دخپلي عقیدي دتحفظ لپاره پاڅیدلي، دخپلو حقه اوشرعي حقوقو غوښتنه چي هدف بي تري بر سرچه سپیڅلي اسلامي نظام دي مطالبه کوي.

خو استکباري تروریست ،دهشت ګرد، بنیاد ګرا بولي. اودغه خوځښت کفري نړي څکه خپله دښمنه بولي چي استکبار ته بي دغلامي سر نه ټیټیږي داستعمار له نظره بنیاد ګرا هغه چاته ویلي کیږي چي بنیادي مسلمان ، دیځي عقیدي خاوند د غلامي اوذلت ژوند دځان لپاره ننګ اوعار بولي اود ژوند په ټولو ساحو کي دالله (ج) د احکامو حاکمیت او پلي کول غواړي اودټولو فجایعو څخه ځانساتنه بي دنړي په مشتري ستر هدف دي نو هره هغه تحریك اوخوځښت چي دغه پاك هدف ته رسیدل غواړي هغه دغرب په اصطلاح بنیاد ګر ، دهشت ګرد ګڼل کیږي چي ځني نن په نامه قدرت غوښتونکي مسلمان زما مداران بي هم دامریکا ددغه شوم او پلید نظر ملګرتیا کوي.

حال داچي موږ د تروریستي ، دهشت ګردي اوانسان دښمني عامل صرف استکبار بولو حو نن چي په اسلامي نړي کي هرڅه را پېښیږي دا ټول دغرب دسایس اولاس وهنه ده چي د ژوند په هر اړخ کي تري کار اخلي که څه هم دغه اړخونه که ، نظامي ،اقتصادي سیاسي وي یا انساني خود استکبارپواځني هدف پدي کي نغښتي دي ، څومسلمانان ذلیل ، احتیاج اوغلامان وساتي خو په یادولري چي دکفري نړي داهلي ځلي به تر هغه رواني وي ترڅو بي یهودیت اوعیسویت بي په اسلامي نړي نه وي حاکم کړي اودا داسلامي دنیا سره دکفري ځواکونو هغه نه پخلا کیدونکي دښمني ده چي په سرښت کي بي نړي.

خو په رښتینو مسلمانو ملکونو ، خوځښتونو ، مشرانو باندي غږ کوو چي داستکبار بي ځایه د دروغو، بهاني لټول دمسلمانانو لپاره اخطار دي چي په مختلفو دړکواوګوابسونو سره دځان ،مسلمان و ژني اعمال پټ او په بدل کي بي ویش، بیدار، رښتیني مسلمانان ومځي ددي د پاره چي د دښمن دغه حربه هم خنثي اوکاري نشي ټول اسلامي امت مسئولیت لري چي دالهي احکامو په ارشاداتو کي سره په صداقت ورورولي دایمان او وجدان په پیروي بي له تبعیض د پخوا په شان په یوه سنګر کي را ټول او د (الله اکبر) په وسله ، دشرق ملحد ښکیلاکي ځواك په ځیر، غربي دیکتاتور زېر ځواك هلي ځلي هم شنډي کړي اودا هله کیداي چي اسلامي نړي دقران په حکم والله په رسي دېوالي منګولي ښخي او دابدي ژوند دګټلو په خاطر دسربازي ډګر ته ور وړاندي شي.

دروسیی پوځی اهدافو اودایکو نیمګړتیاوو ته یوه کتنه

ژباړن: عزیزي "کاکړ"

دروسیي نوي پوځي اصول دا ښیي چي د دامنیت سره د روسي اودمنځي آسیاد نوروهیوادونو علاقه ممکن د روسیي فدراسیون دازمینه مساعده کړي څوبه بهرکي روسي پوځیانواو وسلي ځاي پرځاي شي . له دي امله ټولوروسي پوځي ادارو ته هدایت ورکړشوي کله چي د روسیي اونورومتحدینوحاکمیت ، ځمکني بشپړتیااوعلاقي ورنور حیاتي شیان ترتهدیدلاندي وي ، باید دمنځني آسیا دجمهوریتونو څخه دفاع وکړي.

